د مُصعب بن عُمير (رض) دارالقرآن

# د قرآن مباشت



Ketabton.com

د ۱۴۴۲ هـ . ق د رمضان رسالهٔ

ليکوال : نصرت الله "صاحبي"

ژباړن: اعجازالحق "محرابي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرآن میاشت

**لیکوال: نصرت الله صاحبي**

**ژباړن: اعجازالحق محرابي**

**د ۱۴۴۲ هـ.ق د رمضان رساله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قرآن میاشت

د روژې د ښه راغلاست ویلو رساله ۱۴۴۲

**د کتاب پېژندنه**

د کتاب نوم: د قرآن میاشت

راټولونکی: د مصعب بن عمیر رض د دارالقرآن د خپرونو څانګه

لیکوال: نصرت الله «صاحبي»

ژباړن: اعجازالحق «محرابي»

کتونکی: استاد فرهاد «جلالزی»

کمپیوټری دیزاین او ترتیب: نعمت الله «جاهد»

دلومړی کال چاپ: شعبان ۱۴۴۲

د لومړی چاپ شمېر: ۲۰۰۰ ټوګه

د اړیکې شمېرې: ۰۷٦٥۹٥۱٥٦٦ - ۰۷۹۰۸۵۸۱۳۳

برېښنالیک: noorhaq1395@yahoo.com

خپرندوی: د نور حق انتشارات، غزني، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

سریزه.......... ۱
ښه راغلاست ای سپېڅلېه میاشتې! .......... ۲
رسول صلی الله علیه و آله وسلم اعلان کوي!.......... ۲
رمضان د نتیجې د حاصلیولو میاشت!.......... ۳
گرانه وروره او خورې! .......... ۳
د روژې مهم فقهي مسائل .......... ٦
د روژې د خوړلو مباح عذرونه.......... ٦
کوم شیان د روژه نیونکو لپاره مکروه ندي؟ .......... ٦
هغه حالتونه چې په هغه باندې روژه نه فاسدیږي .......... ۷
دکفارې د وجوب شرطونه .......... ۸
د کفارې بیان .......... ۸
څه وخت قضاء پرته له کفارې واجب کیږي؟.......... ۸
د وخت ارزښت په روژه کې.......... ۹
سخاوت په رمضان کې.......... ۱۰
اوس هم د توبه دروازه خلاصه ده، دا فرصت غنیمت وگڼه .......... ۱۱
خبر اوسئ، مرگ په کمین کې دی، ناداني مو تر کله؟! .......... ۱۲
رمضان او قرآن.......... ۱۳
د قدر د شپې فضیلت.......... ۱۵
د روژې حکمت او گټې .......... ۱۷
روژه د گناه د مخنیوي لپاره عامل .......... ۱۸
او له روژې څخه وروسته .......... ۱۸
وروسته له رمضان نه څه باید وکړو؟.......... ۱۹
الهي!.......... ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالۍ

داچه رمضان د رحمت، مغفرت او د جهنم د اور څخه د خلاصون میاشت ده نو ددې په پار دالله جل جلاله په توفیق او په خپل لـړه توانایي باندې مې وغوښتل دا ګټور کتاب پښتو ژبې ته وژباړم او په ځانګړې توګه یې د خپل ژوند دوو لویو شتمنیو ګران پلار جان او ګرانې  مورجانې ته مې ډالۍ کوم.

په درنښت

اعجازالحق محرابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د هغه خالق په نامه چې توفيق ورکونکی دی. حمد او ډېره مننه د هغه ذات نه چې دې امت ته يې په نورو امتونو غوره والی ورکړو او سلام او لا محدود درود دې وي د بشريت په راهنما (حضرت محمد صلى الله عليه وآله وسلم) باندې.

گرانو لوستونکو! رمضان يو ځل بيا د انسانيت ملاقات کولو ته راځي حال دا چې اسلامي نړۍ په وينو باندې ډوبه ده؛ رمضان په دې اميد چې شايد د تېر کال وينې وچې او ملتونه د رشادت طرف ته سوق او د غفلت يعنې د خرگوشي خوب څخه راپورته شوي ووسي، يو ځل بيا راورسيده نو پاځېږه او ثابت يې کړه چې څوک يې او همدارنگه په خپل لاسونو باندې خپل مقام د الله جل جلاله په جنت الفردوس کې پيدا کړه او په دې پوه شه که د رمضان ژبه واى په غټ غږ باندې به يې ويل چې اى مسلمانانو پورته شئ ... دا څه محروميت او ماتم دی.

ترڅو به د ظالمانو د پړي لاندې، د ذلت شراب او خفت به په مستانه بڼه څښئ؟

زه راغلی يم ترڅو ستاسو گناهونه ومينځم، راځی لاس په لاس کې ورکړی ترڅو پاک شی او د الله جل جلاله درگاه ته، خپل د اميد او هيلو لرزونکي لاسونه پورته کړی؛ شايد الله جل جلاله په تاسو کې د همت د ځواکمنتيا تحرک پيدا کړي ... پورته شئ او کيان ظلم او بې عدالتي له خپل ځمکې لرې کړی.

د نور حق نهاد، يو دعوتي تحرک دی چې د عامه اذهانو د روښانولو په پار او د امت د راويښولو لپاره دغې ميدان ته راغلی ترڅو وکولای شي دخپل نهاد تر چترۍ لاندې خپل ديني مسئوليت ددين، وطن او اسلامي امت پر وړاندې د خپل بشري توان په نظر کې نيولو سره ترسره کړي.

دا چې د رمضان د ښه راغلاست لپاره، (د قرآن مياشت) تر عنوان لاندې رساله چې د رمضان د پوهې موضوعات کې نغښتي دي تاسو گرانو ته مو وړاندې کړ، په دې اميد چې مخکې له دې چې دا د نور څخه ډک خورشيد راوبريښي، د فکري او جسمي اړخه ورته آماده او د نورانيت څخه يې عظيمه گټه پورته کړی او د برکت څخه په ډې ډکه مياشت کې، په خپلو دعاگانو کې د اسلامي امت يادونه وکړی ترڅو چې وي الله جل جلاله زمونږ دا نه ختميدونکي گناهونه عفوه او دغه امت د خپل لطف، مهرباني او کرامت لاندې لاولي.

نصرت الله صاحبي

د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځی د دويم کال محصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښه راغلاست ای سپېڅلېه میاشتې!

دا دی رمضان میاشت له خپل ټول برکتونو او نعمتونو سره، الله جل جلاله غوښتونکو انسانانو باندې راغله. او مسلمه امت د هر کال په څېر په ټوله مانا د خوشحالي او د ښه راغلاست لاس ورته پورته کړي ... نو ښه راغلاست ای رمضان! ښه راغلاست هغه میاشتې چې مینه درسره لرو، هغه میاشتې چې راغلې یې ترڅو په ببلیدونکو زخمونو باندې جوړوونکې مالګه وشني، ښه راغلاست! هغه میاشتې چې راغلې یې ترڅو تږي نفسونه اوبه کړې ... ښه راغلاست هغه میاشتې چې په ټولو میاشتو باندې غوره والی لرې، ښه راغلاست! د رحمت، مغفرت او د جهنم د اور څخه د خلاصون میاشتې، ښه راغلاست! د تقوی، توبه، صبر او الله جل جلاله ته د ورګرځېدو میاشتې، ښه راغلاست! د شپو د ویښتیا او د الله جل جلاله سره د راز او نیاز میاشتې، ښه راغلاست! د صدقاتو او په عملونو کې د زیاتوالې میاشتې ... او بالآخره؛ ښه راغلاست! د نفساني خواهشاتو سره د جهاد او د مبارزې میاشتې، نو ښه راغلاست! ای د بې شمېر خیر میاشتې...

## رسول صلی الله علیه و آله وسلم اعلان کوي!

رسول الله صلی الله علیه وسلم د شعبان میاشت په وروستۍ ورځ خپلو اصحابو کرام ته د روژې میاشت د راتګ په پار داسې اعلان وکولو: (ای خلکو! لویه میاشت په تاسې باندې سیوری اچونکې ده، د برکت میاشت، هغه میاشت چې په هغه کې یوه داسې شپه شتون لري چې د زرو میاشتو څخه غوره ده، هغه میاشت چې روزه یې الله جل جلاله فرض کړې او د شپې قیام یې نفل ګرځولی، څوک چې په دې میاشت کې د خیر کار وکړي د نورو میاشتو سره په پرتله د فرضو ثواب ورکول کیږي او څوک چې فرض عمل ترسره کړي د نورو میاشتو په پرتله د اویاوو فرضو ثواب ورکول کیږي. دغه د صبر میاشت ده او د صبر ثواب جنت دی، دا فقراوو او مساکینو ته د رسیدګي میاشت ده او هغه میاشت ده چې د مومن روزي که پراخوالی مومي. څوک چې په دې میاشت کې یو روزه نیونکې ته روژه ماتی ورکړي دده د ګناهونو د مغفرت او د جهنم د اور څخه د خلاصون سبب یې ګرځي او کټ مټ د روزه نیونکي اجر او ثواب ده ته ورکول کیږي حال داچې دهغه د ثوابونو د کمښت سبب نه ګرځیږي. صحابه کرامو عرض وکړ: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ خو د روژه نیونکو د روژه ماتې لګښت نه لرو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا ثواب د هغه چا لپاره هم ورکول کیږي چې حتی یوه خرما یا یو قورت اوبه او یا هم څه شیدې روژه نیونکې ته ورکړي، دا هغه میاشت ده چې د پیل لسیزه یې رحمت، منځنۍ یې د مغفرت او وروستۍ یې د جهنم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اور څخه د خلاصون ده، څوک چې خپل خدمتکار ته تخفیف ورکړي د الله جل جلاله د مغفرت او د جهنم د اور څخه د خلاصون سبب گرځي.)

څلور خصلتونه په دې مبارکه میاشت کې ډېر ترسره کړی، چې د هغو له ډلې څخه دوه یې د الله جل جلاله د رضا او خوښي سبب گرځي او دوه نور یې ستاسو د ضرورت وړ دي، دوه لومړني خصلتونه: د لا اله الا الله او استغفار ویل دي او هغه دوه نور: د جنت غوښتنه او د دوزخ څخه پناه غوښتل دي، څوک چې روژه نیونکی موړ کړي الله جل جلاله به زما د حوض څخه به هغه ته اوبه ور وڅکي ترڅو هیڅکله په جنت کې تږی نشي.

**رمضان د نتیجې د حاصلیولو میاشت!**

گرانه وروره او خورې! د رمضان میاشت له خپلو ټولو ښېگڼو او گټو سره مل راغله، خو ته چیرته یې؟
آیا ته ددغه مېلمه د ښه راغلاست لپاره آماده یې او که نه؟

د سږ کال رمضان هم د تېرو کلونو په څېر راځي او ځي، اما ستا دې په الله جل جلاله قسم، مه پرېږده دا لوی فرصت ستا له لاسه هسې خوشي لاړ شي. هغه فرصت چې د هغه څخه څو محدودې ورځې نه دي تېرې شوې ... څوک پوهېږي چې راتلونکی کال به رمضان ته ښه راغلاست وکړي او که نه؟
گرانه لوستونکیه! باور وکړه هیڅ ضمانت شتون نه لري ... څه ښه ځوانان او خپلوان مو درلودل چې تېر کال په موږ کې او زموږ ترڅنگ یې شتون درلود، اما سږ کال د خاورو لاندې پراته دي. آیا ښه نه ده چې یوار د هغه ماموریت په هکله چې ورته رالېږل شوي یو له ځان سره محاسبه وکړو. آیا سم روان یو او که نه؟ آیا زموږ د ژوند لاره هغه طرف ته روانه ده چې الله جل جلاله موږ ته راښودلې او ترسیم کړې؟ یا دا چې په گمان دې کعبه د ترکستان په لور ته روان یو؟!

**گرانه وروره او خورې!**

رمضان د هغې ارزیابي فرصت دی ترڅو وگورو چې موږ څنگه روان یو. راځه سږ کال یو ځل بیا د خپلې لاره په هکله سوچ وکړو، راځه د تغیر په نیت د خپل رب سره آشتي وکړو، راځه خپل رب د هغه بدو اعمالو له کبله چې رانه خپه شوی وو خوشحاله کړو او لکه هغه کسانو غوندې نه ووسو چې د الله جل جلاله په هېرولو سره یې خپل نفسونه هم له یاده وتلي دي.

نو آیا ته کوم ځانگړې برنامه د رمضان لپاره په خپل پلان کې لرې؟

آیا د خپل رب سره د آشتي پلان لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا په خپل ژوند کې د بدلون لپاره آماده يې؟

که ستا ځواب هو وي، نو ودرېږه! او په خپلو لاسونو باندې د خپل برخلیک تغیر ولیکه.

څنګه د رمضان نه په ښه توګه ګټه واخلو؟

ګرانه وروره او خورې! راځه د ښه مهالویش په درلودلو سره رمضان ته ښه راغلاست ووایو او د لاندنیو لارښوونو په عملي کولو سره خپل نفس تزکیه او د نفس په تربیه کې قدم واخلو.

- ✓ د الله جل جلاله شکر ترسره کړو ځکه چې موږ ته يې په دغه رمضان کې د ژوند فرصت ر نصیب کړ.
- ✓ په خالص نیت او په ټینګه اراده سره ددې مبارکې میاشتې د روژې نیولو هوډ وکړو.
- ✓ د روژې د احکامو او مسائلو په هکله معلومات راټول کړو او روحاً ځان ورته آماده کړو.
- ✓ کوښښ وکړو د رمضان په ابتدا کې ریښتینې توبه او په بشپړ جدیت سره د خپلو ګناهونو د محو لپاره اراده وکړو او خپل ځان هوډمن کړو ترڅو نور د ګناهونو دروازه ونه ټکوو.
- ✓ د الله جل جلاله څخه په ښه توګه د طاعاتو او عباداتو د توفیق استدعا وکړو.
- ✓ په دقیق مهالویش سره، خپل او د کورنۍ وخت په نیکو اعمالو ډک کړو.
- ✓ ددغې مبارکې میاشتې قیمتي وخت باید د خپل مبارک دین په حد اکثر زده کړو باندې مصرف او د مطالعې فرهنګ په خپل ځان کې زیاد کړو.
- ✓ د روژه لوږه او تنده موږ د هغو په یاد کې اچوي چې د خوراک لپاره یوه مړۍ هم نه لري.
- ✓ د پیشلمي د لوی فرصت له کبله د خپل نفس د تربیې په پار د تهجد د لمانځه نه ګټه واخلو.
- ✓ رمضان د ذکر، دعا او استغفار بهترین وخت، فلهذا ددغې لوی فرصت څخه باید عظیمه ګټه پورته کړو.
- ✓ که څوک توانایي لري، عمره ترسره کول په رمضان کې عظیم ثواب لري او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث مطابق چې وايي: ( عمره په رمضان کې د یو حج سره برابر دی.)
- ✓ کوښښ وکړو د رمضان په وروستۍ لسیزه کې د طاعاتو او عباداتو لپاره د همت ملا وتړو ترڅو د قدر شپه چې فضیلت يې تر زرو میاشتو څخه غوره دی پیدا کړو.
- ✓ په روژه ماتې ورکولو سره روژه نیونکو ته، دهغه اجر او وعده نه ځان برخمن کړو چې وعده ورکول شوې ده.
- ✓ په خوشحالي او انرژي سره خپلو ورځنیو کارونو ته حاضر شو او د روژه د معنوي روح په نظر کې نیولو سره د کم حوصله ګي او جنجال کول له نورو سره په کلکه ډډه وکړو.
- ✓ د لهو او لعب مجالسو څخه ډډه او خپل ارزښتناک وخت په قرآني او دیني مجالسو کې تېر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ✓ د اختر په لمونځ کې چې ددې خیر او برکت موسم (رمضان) پای دی ګډون وکړئ او د خپل رب سره ددې عبادات او بندګی د دوام او تجدید وعده وکړئ.

د ا ممکن ستاسو وروستی رمضان وي!!!

رښتیا ځوک څه پوهېږي...

- ✓ دا ممکن، واقعاً ستاسو لپاره وروستی رمضان وي چې مېلمه کړی مو وي!
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستۍ ورځې وي چې یوازې او یوازې د الله جل جلاله لپاره یې نه خوری، او نه څه څښی!
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستی فرصت وي چې خپله خوله د مشک په شان خوشبو کړی!
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستۍ پیشلمي وي چې د شپې له ستورو سره یې سبا کوی!
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستۍ روژه ماتي وي چې د خپل کورنۍ، دوستانو او ملګرو سره په ګډه په دسترخوان کې کینی!
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستی ځل وي چې د یتیم پر سر د مهربانۍ لاس تېروی!
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستی ځل وې چې غوږ د زنګ او آذان په انتظار کېږدی!
- ✓ دا ممکن وروستی ځل وي چې د ړوند سره د مرسته له کبله، الله جل جلاله ته قرض ورکوی!
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستی فرصت یي چې د یوې شپې عبادت د زرو میاشتو سره برابر وي.
- ✓ دا ممکن ستاسو لپاره وروستی فرصت وي ترڅو چې ووایی یاالله اشتباه مې کړې!
- ✓ دا ممکن دا ستاسو لپاره وروستۍ پاک کونکي ټوته وي ترڅو یي د خپلو اعمالو په ګناهونو را تېر کړی.
- ✓ دا ممکن دا داوښکو وروستی ځاځکې وي چې ستاسو په مخونو کې په مینه رابهیږي!
- ✓ دا ممکن ستاسو وروستۍ موسکا وي چې نورو ته یي هدیه کوئ!
- ✓ دا ممکن ستاسو وروستۍ اختر وي چې وکولای شئ له نورو نه د حلالیت غوښتنه وکړئ!

رښتیا ځوک څه پوهېږي!

- ✓ دا ممکن ستاسو وروستۍ ځل وي چې تاسو وکولای شی چې ووایې  ممکن دا زما وروستی فرصت دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د روژې مهم فقهي مسائل**

**د روژې د خوړلو مباح عذرونه**

۱- د شدید ناروغ لپاره، که روژه نیول هغه ته زیان رسوي، او یا په خپل ځان یا د مرض په زیاتوالي یې ډار درلود. (خو د متخصص او متدین ډاکتر په مشوره سره)

۲- د هغه مسافر لپاره چې اوږد سفر په مخکې لري او په هغه کې لمونځ هم را لنديږي.

۳- د هغه چا لپاره چې هغه د شدید لوږې او تندې سره مخامخ کیږي او داسې فکر وکړي چې که چېرې روژه ونخوري مړ کیږي.

۴- د امیندواره ښځې لپاره، دا هله چې روژه نیول دې ته او ددې ماشوم ته زیان رسوي.

۵- د شیدو ورکونکې ښځې لپاره، دا هله چې روژه نیول دې ته او ددې ماشوم ته زیان رسوي.

٦- د حائض او نفاس لرونکې ښځو لپاره، ددغې دواړو لپاره روژه خوړل واجب ده او روژه نیول یې نه صحیح کیږي.

۷- د شیخ فاني لپاره څوک چې د روژې نیولو لپاره ځواک او وړتیا نلري.

کوم شیان د روژې نیونکو لپاره مکروه دي؟

۱- د یو څه ژوول، یا یې بې ضرورته خوند کتل.

۲- په خوله کې د لعابو راټولول او بیا یې تیرول.

۳- هر هغه څه چې دده د ضعیفیدلو او ناتوانایي باعث گرځي لکه: د بدن د رگ وهل یا حجامت.

**کوم شیان د روژه نیونکو لپاره مکروه ندي؟**

۱- پر خپل ږیره او بریتو باندې غوړي وهل.

۲- سترگې سرمه کول.

۳- د بدن د یخوالي لپاره غسل کول.

۴- خپل ځان په نمجن کالي باندې پیچل.

۵- مضمضه او تنفس کول د غیر اوداسه لپاره.

٦- مسواک وهل د ورځې په پای کې بلکه مسواک وهل د ورځې په پای کې، لکه مسواک وهل د هغو په پیل کې سنت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه حالتونه چې په هغه باندې روژه نه فاسدیږي**

۱- که په هېره وخوړل شي.

۲- که په هېره وڅښل شي.

۳- که په هېره جماع وکړل شي.

۴- که په سر خوږ وموښل شي.

۵- سرمه وهل په هغه حالت کې چې د هغې خوند يې په ستوني کې پيدا شي.

٦- که حجامت وکړل شي.

۷- که د روژې د خوړلو نيت يې وکړ، خو ويې نخوري.

۸- که ستوني ته مچ ننوت.

۹- که جنابت پرې راغئ.

۱۰- که کوم ويالې ته ولويد او اوبه يې ستوني ته لاړې.

۱۱- که پوزې ته کوم مخاط ننوځي نو که هغه عمدا استنشاق او يا يې تېر شي.

۱۲- که قی خولې ته يا پورته راشي او وروسته پرته له کوم فعل څخه ستوني ته ښکته شي که څه هم هغه کم او يا ډېر وي.

۱۳- که په قصدي توګه قی وشي او هغه د خولې د ډکوالې نه يو څه کم ووسي او پرته له کوم فعل څخه دده ګېډې ته بېرته لاړ شي.

۱۴- که کوم شی دده په خوله کې پاتې وو او وخوړل شي په هغه صورت کې چې دا شی د نخود له دانه نه کوچنی وي.

**څه وخت د قضائي په راوړلو سربېره، کفاره هم واجب کيږي؟**

۱- که روژه نيونکی کوم غذا وخوري که په طبع يې شوې وي او د خېټې دشهوت غوښتنه يې پرې پوره شوې وي.

۲- که روژه نيونکی پرته له شرعي حاجت څخه کومه دوا وخوري.

۳- که روژه نيونکی اوبه او يا بل کوم څښونکی شی وڅښي.

۴- که روژه نيونکي جماع وکړه.

۵ که روژه نيونکي هغه باران چې دده په خوله کې ننوتلی وي تېر کړي.

٦- که روژه نيونکي د کنجد، غنم او يا ورته کوم دانه وخوري که څه هم په غاښونو يې ټوټه کړی وي يا نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- لږ مالگه که وخوري.

۸- که سېگرټ یا ورته نشه یې توکي یې دود کړ.

۹- گل یې وخوړ او دهغې په خوړلو روږدی ولو او که روږدی نه وو نو کفارې ورکړه نه پرې لازمیږي.

## دکفارې د وجوب شرطونه

۱- که د رمضان د روژې د ترسره کولو په وخت کې یې څه وڅښل او یا وخوړل.

۲- که قصداً څه وخوري او یا څه وڅکي

۳- په هغه حالت کې چې په خوړلو او یا څښلو کې یې تېروتنه نه وي کړې.

۴- که خوړلو او یا څښلو ته مجبور نه وو.

۵- که خوړلو او یا څښلو ته نه وو مجبوره شوی.

## د کفارې بیان

۱- د غلام آزادول، که مؤمن وي او که نه وي.

۲- دوه میاشتې پرله پسې روژه نیول مشروط پردې چې دهغو ترمنځ هغه ورځې نه وي چې په هغو کې روژه جایز نه دي.

۳- ٦٠ مسکینانو ته ډوډۍ ورکول په هغه اندازه چې په اوسط ډول یې خپله خوري.

کفاره په پورتني ترتیب سره واجب کېږي، که لومړنی تر سره نشو، دویم؛ او که دویم ترسره نشو، دریم دې ترسره شي؛ او د هر غریب لپاره دوه ځلې پوره ډوډۍ ورکول واجب دي او دا ډله باید په هغه کسانو کې نه ووسي چې نفقه ورکول یې په کفاره ورکونکي باندې لازم وي لکه پلار، مور او ...

## څه وخت قضاء پرته له کفارې واجب کیږي؟

۱- که روژه نیونکی د شرعي عذرونه څخه د یو عذر لکه: سفر، مریضي، حیض، نفاس او ... له کبله روژه وخوري.

۲- که روژه نیونکي د شیانو له ډلې یو شی وخوړ لکه جغل، اوسپنه او ...

۳- که روژه نیونکی په جبر سره خوړلو او یا څښلو ته اړ شو.

۴- که روژه نیونکي پیشلمۍ وکړو په دې سوچ چې شپه پاتې ده خو وروسته ورته معلوم شو چې سهار شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- که په غرغړق او د پوزې په پاکولو کې یې ډېرئ یا مبالغه وکړه تر دې حده پورې چې اوبه زړه ته لاړې شي.
٦- په قصد سره قی وکړي، او قی دده خوله ډک کړي.
۷- په اکټ کولو سره کوم لوګی خپل ستوني ته دننه کړي.
۸- که د خپلو غاښونو په منځو کې یې د ډوډۍ کوم ټوکی د یو نخود په اندازه پاتې وي او هغه تېر کړي.
۹- که مسافر شو او د استوګنه هوډ یې وکړ او وروسته له هغې یې وخوړله.
۱۰- که سفر یې وکړ او استوګن شوی وو، بیا یې وخوړله.
۱۱- غوري او یا کوم اوبه یې په خپل غوږ باندې تویې کړل.
۱۲- کومه دوا یې په پوزه کې واچوله.
۱۳- که یې د کوم زخم درملنه په خپل زړه او یا یې په خپل مغز کې وکړه او وروسته له هغې یې دواء زړه ته لاړه.

که له چا څخه د دیو نه یو سبب له کبله روژه فاسد شوه، نو پر ده واجب ده چې ددغه ورځې په پاتې برخه کې دې د خوړلو او څښلو څخه د روژې د تعظیم په موخه ځان وساتي.

## د وخت ارزښت په روژه کې

وخت د یو شخص د ملکیت یا سرمایې تر ټولو ارزښتمنه پانګه ده انسان په حقیقت کې د یو کوکي ساعت په څېر دی، د مشخصې مودې لپاره کوک کیږي او ددې مودې په پای کې له کار څخه لوېږي او د ساعت د تیک تیک آواز د فولادین چکش په څېر د هغو په سر لګېږي او وخت د بشپړېدو په حال که کېږي او په حقیقت کې د انسان د زړه نبض هماغه د ساعت تیک تیک دی چې هغه ته وایي چې ژوند هغه ثانیې او دقیقې دي چې د تېښتې په حال دي. وخت په هرزمان کې خپل ځانګړی ارزښت لري د مثال په توګه په رمضان کې داسې ارزښت لرونکې شېبې شته چې هغه په نورو میاشتو کې نشو پیدا کولای.

رمضان راځي ترڅو موږ د وخت د ارزښت په هکله په غوږ ووهي. رمضان د مؤمن ژوند په یو تربیتي ښوونځي باندې بدلوي چې په هغو کې د ساعتونو، شېبو او حتی د ثانیو څخه د لږ وخت د ارزښت په هکله ښه څرګندونه کیږي.

په رمضان کې داسې شېبې شته چې باید د هغو څخه په سمه توګه ګټه واخیستل شي. رمضان د دریو لسیزو درلودونکی دی چې په هر لسیزه کې یې د مخکیني لسیزې په پرتله ارزښتناکې شېبې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رمضان لومړی لسیزه د رحمت ده چې د رحمت او الهي ببنښې څپې د انسان لورې ته راخي او د ناهیلی او نااميدی دروازې نه پاتې کيږي او ددغې لسيزې په لومړی ورځ باندې، د الله جل جلاله د رحمت خاوندان بندګان د الله جل جلاله سره دا وعده کوي چې نور نو د هغه ګناهونو څخه ډډه کوي چې په مخکيني ورځو شپو کې يې ترسره کول.

د رحمت خاوندان بندګان اوس نو د رحمت د لسيزې نه تېر شوي دي او په دې اړه شيطان ډېر ناراحت دی دا ځکه چې وېې نه شو کولای چې د روژه نيونکو د وسوسه او تشويش لپار کوم کار رامنځ ته کړي.

دويمه لسيزه چې د مغفرت لسيزه ده، دا بل فرصت دی د الله جل جلاله د مؤمن بندګانو لپاره ترڅو چې د خپل زيار او کوښښ له کبله د الله جل جلاله د عفو او ببنښې باعث وګرځي او هېره دې نه وي چې که چېرې دويمه لسيزه په غفلت سره تېره شي نو د دريمې لسيزې لپاره چې د جهنم د اور څخه د خلاصون لسيزه ده توفيق به پيدا نکړی.

اوس نو هغه لسيزه راورسېده چې د الله جل جلاله مؤمن بندګان به د جهنم د اور څخه خلاصون مومي او شيطان غوسه شوی ځکه چې ويې نشو کولای چې د الله جل جلاله بندګان د هغه د مغفرت نه غافل کړي دا لسيزه د دوو مخکينيو لسيزو نه متفاوته ده ځکه د اکثريتو علماوو په اتفاق سره په دې کې د قدر شپه شتون لري.

دا دری لسيزې بايد په غفلت سره تېرې نکړو. په هره لسيزه کې بايد شبېې غنيمت وګڼو او خپل ځان د بلې لسيزې لپاره تقويه کړو.

اوس دريمه لسيزه پای ته رسيږي او شيطان د تېرو لسيزو په پرتله ډېر غمګين او غوسه دی دا ځکه چې ويې نشو کولی چې د الله جل جلاله بندګان دبرکتونو ددې ډکې مياشت څخه غافل کړي او بشارت، اعلان او ښه خبر دې وي د الله جل جلاله پر بندګانو؛ جنت يې دې مبارک وي اما افسوس په هغو کسانو باندې چې دبرکتونو ددې ډکې مياشت څخه غافل پاتې شول.

## سخاوت په رمضان کې

سخاوت په ټولنه کې طبقاتي فاصلې راکموي او په دې سره په ټولنه کې رامنځته شوې طبقاتي اختلالات له منځه ځي او يا کموالی کې راځي. د کينې د اور هغه لمبې ختموي چې د خلکو د بې وسي سبب ګرځېدلی وو او په هغوی کې د غچ اخيستلو حس تضعيفوي اوله دې طريقه په ټولنه کې ټولنيزې اړيکې قوي کوي.

په رمضان کې لکه څرنګه چې د نورو اعمالو انعام يا پاداش زياتوالی مومي، د صدقې انعام او د خيرات انعام هم زياتوالی مومي، په دې هکله د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ځو احاديث روايت شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن عبدالله بن عباس -رضي الله عنهما- قال: «كان رسول الله -صلى الله عليه وسلم- أَجْوَدَ الناسِ، وكان أَجْوَدَ ما يكونُ في رمضانَ حِينَ يَلْقاهُ جبريلُ، وكان يَلْقاهُ في كلِّ ليلة مِن رمضانَ فَيُدارِسُه القرآن، فَلَرسولُ الله -صلى الله عليه وسلم- أَجْوَدُ بالخير من الريح المُرسَلة. صحيح بخاري
ژباړه: د عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په جود او سخا کې د ټولو انسانانو څخه غوره وو، او په رمضان مبارک کې کله به چې جبرئیل علیه السلام دده خواته راتلو، سخاوت به یې ډېر ډېروالی موند جبرئیل علیه السلام د رمضان په هره شپه د هغو مبارک خواته راتلو او د هغه سره به یې قرآن ویلو، په هغه وخت کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دسخاوت او ګټې رسونې په فیاضي کې د رحمت له باد څخه به یې هم مخکې والی نیو

حضرت انس بن مالک رضي الله عنه وایي: له ده نه پوښتنه وشوه چې کوم صدقه افضله ده؟ وفرمایل: صدقه ورکول په رمضان کې افضله ده. ( جامع الترمذی)
یادونه: په دغې میاشت کې ډېر له مخکې څخه، په انفاق او د الله په لار کې په خرچ کولو کې زیات کوښښ او زیار کوی. صدقه فطر او زکات واجب (په هر حال ) د انسان په غاړه دی چې باید هغه ترسره کړي، خو د هغې سره، نفلي صدقات (خیرات) ته هم پام وکړي. فقراوو ته روژه ماتی ورکول، د مسکینانو سره مرسته، د اړمنو کسانو حاجت پوره کول، یتیمانو او کونډو ته پاملرنه کول دا له هغو نیکیو څخه دي چې په دې مبارک میاشت کې باید ترسره شي.
د رمضان مبارک میاشت د سخاوت او بخشش میاشت ده په دغې میاشت کې هر څومره خرچ وکړی لږ دي دا ځکه چې دا میاشت، هغه میاشت ده چې کولای شو د آخرت لپاره غوره توښه ذخیره کړو او دغې میاشت ته د المواساه ښار( د غم خوړلو میاشت) ویل شوې ده لکه څرنګه چې په نبوي احادیثو کې دې کار ته ډېر امر شوی دی.

**اوس هم د توبه دروازه خلاصه ده، دا فرصت غنیمت وګڼه**

باز آ باز آ ، هرآنچه هستي باز آ گر کافر و گبر و یهود و بت پرستی باز آ
این درگه ما، درگه نا امیدی نیست صد بار گر توبه شکستی باز آ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خبر اوسئ، مرگ په کمين کې دی، ناداني مو تر کله؟!**

د توبه تعريف: په لغت کې رجوع او بېرته راتللو ته وايي او د شرع په اصطلاح، هغه بېرته راتللو ته وايي چې ريښتينی او پرته له ککړتيا او درغلي څخه د مخلوق د خالق په لور يي او همدارنگه توبه يو ډول ربښتيا يا صحيح پښيماني څخه عبارت ده لکه څرنگه چې کوم عزم او هوډ په خپل ځای باندې ايږدي او د شخص سلوک ته بدلون ورکوي او د هغو ناوړه او د گناهونو څخه ډک ژوند په نېک او خوشحاله ژوند باندې بدلوي او همدارنگه د گناهونو او خطاگانو نه د پاکېدلو د تگلارو نه يوه تگلاره ده. د پوښلو او محو کولو د تگلارو نه يوه تگلاره ده. د مغفرت او بخښنې په لور د لارو څخه يوه لار په هغه ډول چې د انسان افکار او هوښيارتيا يا حواس د هغه ناوړه اعمالو څخه منافي کړي چې د اخلاقي، ټولنيز او روحي خلاف يې، او انسان ته خلاصون ترې ورکوي.

هو توبه پر هر گناه کونکي چې د الله جل جلاله او د آخرت دې ورځې څخه بېرېږي واجب ده او الله جل جلاله د توبو دروازې يې په بشپړه توگه خلاصه کړې دي ترڅو هر گناهکار د توبه لپاره په هغې باندې ننوځي او د خپل رب لور ته وروگرځي، نو ځکه کوم عذر او بهانه نشته د هغو کسانو لپاره چې هغوی د خپلو گناهونو څخه نه راگرځي او د خپل ژوند گمراه لارې ته بدلون نه ورکوي.

علمای کرام وايي: چې وروسته له معصيت او گناه څخه توبه کول د انسان لپاره واجب ده مگر که دا معصيت د الله جل جلاله او بنده تر منځ يي د مثال په توگه «دلمانځه پرېښودل» او د آدمي حقوقو سره په اړيکه که نه وي. دری شرطونه لري.

١- دا چې خپل ځان يا جسم د معصيت او گناه څخه وساتي.

٢- دا چې نور نو د گناه کولو څخه د زړې له تله ځان پښيمانه کړي.

٣- دا چې پريکړه ونيسي او جدي ووسي چې بيا ځلې دا گناه ترسره نکړي.

تبصره: که په کوم کس کې دا دری شرطونه شتون ونه لري، نو توبه يې تاثير نه لري او که معصيت د انسانانو په حقوق پورې ربط ولري، څلورم شرطو هم شتون لري.

د مثال په توگه: ( د چا مال امانت اخيستل شوی او بېرته نه دی ورکړل شوی او يا دچا سره ظلم شوی دی... ) سربېره په دريو پورتنيو ذکر شويو شرطونو، څلورم شرط دادی چې کس بايد د حق د صاحب (مقابل کس) څخه د عفو غوښتنه وکړي او که دا مال او دې ته ورته يې حق وو مال يې بايد بېرته ورکړل شي او که غيبت يې کړی وي، اړين دی چې د هغه نه د عفو غوښتنه وشي.

پاملرنه: ای مسلمانه آيا ته پوهيږې چې الله جل جلاله ستا د بېرته راگرځېدو او د توبې غوښتونکی دی؟ حال داچې هغه بې نيازه ذات دی، هو ته فلان د فلان زوی، الله جل جلاله په خپل لوی قدرت او لويي

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې ستا د بېرته راګرځېدو غوښتونکی دی او تل یې د توبه دروازه خلاصه کړې ده ترڅو ته پرته د دروازې د ټکولو ننوځې، ستا او ستا د لوی رب ترمنځ یوازې څلور توري ( تــ و بــ هـ) شتون لري، څکه تا دا څلور توري شاته پرېښودي دي، او بلې نړۍ ته ننوتلی یې او نوي ژوند ته دې لومړنۍ پل اېښی دی.

د احادیثو په کتابونو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوږه ژبه باندې روایت شوی دی...

١- څوک چې ریښتیني توبه وکړي او دالله جل جلاله طرف ته ور وګرځي ( داسې له ګناه څخه پاکیږي) لکه هغه څوک چې هیڅ ګناه یې نه وي کړې. (روایت ابن ماجه)

٢- هرچېرته او په هر حالت کې چې یې، د الله جل جلاله تقوای له ځان سره ولره، د ګناه او ناوړه عمل د ترسره کولو په ترڅ کې توبه وباسه او نېک کار ترسره کړه څکه نېک عمل، ګناه او بد عمل له منځه نه وړي او همدارنګه د خلکو سره ښه اخلاق تر سره کوه. (روایت ترمذی)

## رمضان او قرآن

قرآنکریم او د رمضان مبارکه میاشت یو له بل سره ځانګړې اړیکې لري لکه څرنګه چې الله متعال په سورة البقره کې فرمایي ( شهر رمضان الذی انزل فیه القرآن) ژباړه: رمضان هغه میاشت ده چې په هغه کې قرآن نازل شوی دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: الصیام و القرآن یشفعان للعبد یقول الصیام ای رب انی منعته الطعام و الشهوات باالنهار فشفعنی فیه یقول القرآن منعته النوم بالیل فشفعنی فیه فیشفعان. (مشکوه المصابیح)

روژه او قرآن د الله جل جلاله پر وړاندې د بنده لپاره به سفارش کوي او روژه به وایي الها! زه د ورځې په جریان کې دده د خوړلو، څښلو او نورو خواهشاتو مانع ګرځېدلی وم فلهذا زما شفاعت دده پر وړاندې ومنه. او همدارنګه قرآن به عرض کوي چې ای الها! ما هم دی د شپې د خوب نه محروم کړی وو فلهذا زما شفاعت دده پر وړاندې ومنه، څکه د دواړو سفارش به منل کیږي.

هرکال به جبرئیل د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه قرآنکریم اوریدلو او رسول الله صلی الله علیه وسلم به د جرئیل نه، په هغه کال چې د هغه مبارک صلی الله علیه وسلم وفات منځته راغی دوه ځلې یې قرآنکریم د جبرئیل سره تلاوت کړ او مخکې له هغې یو ځل؛ له دې څخه معلومېږي چې کله یې د رمضان په مبارک میاشت کې حفاظ کرام له یو بل څخه اوري دا یوه مسنونه طریقه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رمضان مبارک میاشت یو ځل بیا په مسلمانانو باندې سیوری اچونکې ده او د رحمت باران یې زمونږ د ژوند دمړښت لپاره وریږي دا میاشت پر اسلامي امت باندې د الله جل جلاله له طرفه د لویو نعمتونو څخه عبارت ده. دا میاشت، د عظمت او لویي میاشت ده او ددې میاشت رمز او راز په یوه شي کې نغښتی دی او هغه دا چې په دې میاشت کې الله جل جلاله تر ټولو لوی د رسالت نعمت او د بشریت هدایت (قرآنکریم) په سلسله یي نزول باندې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړی دی.

په دې مبارکه میاشت کې ډېر نوي څه شتون لري لکه څرنګه چې الله جل جلاله په خپل مبارک کلام کې دا اعلان کړی دی چې ددې میاشت د یوې شپې خیر او برکت برابر دی لکه د نورو میاشتو د زرو میاشتو سره او همدارنګه په خپل مبارک کلام کې د قدر د شپې یعنې د هغې شپې اعلان کوي چې خپل بې شمېره رحمتونه پر خپلو بنده ګانو نازل کوي (د قدر مبارک سوره) ژباړه: بېشکه موږ قرآن د قدر په شپه نازل کړو... د الله جل جلاله ترټولو لوی رحمت چې په دې میاشت کې زموږ د حال په برخه شو، هغه دالله سپېڅلی کلام قرآنکریم دی د ټولو مخلوقاتو خالق خپل ابدي، ازلي او وروستی کتاب چې د قیامت تر رارسېدو پورې به شتون لري موږ محمدي امت ته یې را په برخه کړو او د جبرئیل په واسطه زموږ د خوږ پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم زړه ته یې داخل کړو. د اکثریتو علماوو په قول د روژه د میاشت په ۱۷، دیارلس کاله مخکې له هجرت څخه د حرا غار په مکه معظمه کې د اقرا په لومړني آیت باندې د هغه سلسله وار نزول پیل او تر پایه پورې یې درویشت کاله ونیول.

زما ګرانو! د قرآنکریم تلاوت د انسان د زړه د ډول ډول رنګونو پاک کونکی دی او هغه د زړه د نورانیت سبب ګرځي او همدارنګه د هغه تلاوت د انسان د مخ لپاره ځانګړی نور منځ ته راوړي مګر برعکس که څوک د هغه د تلاوت نه ډډه وکړي په یقین سره د صالحینو نور د هغه څخه اخیستل کیږي او هغه زړه چې د قرآن څخه لري ووسي هغه زړه به تل خفه او غمګین وي او لکه یو ویجاړ او ویران ځای داسې به وي او د هغو په عباداتو کې به سستي او لټي پیدا شي او د هغو د بریاوو او د خیر د کارونو څخه په ځانګړې توګه د شپې د لمانځه نه به کمیږي او شیطانان به په ده باندې به ډېر مسلط کیږي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث مفهوم دی چې مبارک فرمایي: څوک چې په ورته مهارت، غلبه او په پوره مانا سره قرآنکریم تلاوت کوي هغه کس له فرښتو سره به وي او څوک چې قرانکریم په فصیحه توګه نشي تلاوت کولای خو د هغو په فصیح ویلو باندې کوښښ کوي د هغو لپاره دوه اجرونه دي یو د تلاوت کولو لپاره او دویم د کوښښ کولو لپاره خو که کوم کس په بشپړه توګه نالوستی وي، یوازې دې خپل د لاس ګوتې دې د قرآنکریم په آیتونو را تېروي او په دې توګه دې ټول قرآنکریم خلاص کړي او په یقین سره دا عمل به یې د الله جل جلاله په وړاندې پرته له اجر او ثواب څخه نه ووسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د قرانکریم د ویلو د فضیلت په هکله داسې لارښوونه کوي: هرڅوک چې قرآنکریم ووایي او نورو ته یې ور زده کړي او په هغو عمل وکړي د قیامت په ورځ به د الله جل جلاله په امر سره دده دپلار او مور پر سر باندې به د نورانیت تاج ایښی وي چې نور به یې کټ مټ د لمر په شان وي او هغه جامه به یې په ځان وي چې په دنیا کې د هغه د لوړ ارزښت لپاره قیمت نه وي ټاکل شوی او هغوی به وایي: ای الله جل جلاله د څه لپاره موږ ته دا جامه راغوستل شوې ده؟ هغوی ته به ویل کیږي داځکه چې ستاسو اولادونو به زموږ کلام تلاوت کوو او هم به یې نورو ته ور زده کوو.

## د قدر د شپې فضیلت

د قدر تعریف: قدر دوه ماناګانې لري: یو اندازه کول او بله فیصله کول دي. یعنې دا چې الله جل جلاله د هرڅه اندازه ټاکلې او هغو ته یې وخت مشخص کړی دی. احکام نازلوي او د هر څه تقدیر وړاندې کوي او دقدر نورې ماناګانې، عظمت او لویي ده، یعنې لیلة القدر هغه شپه ده چې د الله جل جلاله پر وړاندې ډېر با عظمته او با فضیلته ده او د هغو د قدر او عظمت لپاره دا دلیل بسنه کوي چې الله جل جلاله دا عظیم نعمت یعنې قرآنکریم په دغه شپه نازل کړی دی. د ویاړونو له ډلې څخه یو ویاړ چې الله جل جلاله دغې مبارکې میاشت ته مختص کړی دی، هغه د لیلة القدر شپه ده، هغه شپه چې خپله الله جل جلاله په خپل تر ټولو غوره کلام کې د هغې لپاره د زرو میاشتو په پرتله توصیف ورکړی دی.

ژباړه: بې له شکه قرآن مو د قدر په شپه نازل کړی دی، نو ته څه پوهېږې چې د قدر شپه څه ده؟! د قدر شپه تر زرو میاشتو بهتره ده، په دغه شپه باندې فرښتې او روح د الله جل جلاله په اجازه او امرسره د هر کار د تقدیر لپاره را نازلیږي، د لمر تر راختو پورې د کرامت او برکت څخه ډکه شپه ده.

د رمضان ټولې ورځې او شپې ، دقیقې او ساعتونه او ټولې شپېې د الله جل جلاله د فیض، برکت او د نور د ځلېدو څخه ډکې دي مګر د قدر شپه په رمضان کې د ځانګړي مقام درلودونکې ده. عبادت په دې مبارکه میاشت کې، ډېر لوی او عظیم ثواب لري لکه څرنګه چې دا شپه د زرو میاشتو په پرتله غوره ده، عبادت هم د زرو درجو په پرتله افضل دی او د دعا د قبلېدو فیصدي هم په دې شپه کې ډېره پورته دی نو باید کوښښ وکړو چې دا شپه پیدا کړو او د الله جل جلاله په ذکر او د نېک کارونو په ترسره کولو سره د یتیمانو او کونډو ښځو په لاسنوی سره د الله جل جلاله څخه ددغې شپې د سعادت نصیبولو غوښتنه وکړو، او په مختلفو روایاتو کې راغلي دي چې د قدر شپه د رمضان مبارک په وروستی لسیزه کې ده او دا عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ( د قدر شپه د رمضان مبارک په لسو وروستی طاق شپو ( یوویشتمه شپه، درویشتمه، پنځه ویشتمه، اوویشتمه او نهوویشتمه کې) ولټوئ او په بل حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم د رمضان په وروستی لسیزه کې یې داسې ذکر او عبادت ته پاملرنه کوله چې په نورو ورځو کې یي نه کوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې شپه کې امت له تېر څخه ډېر په سجده، قیام، ذکر او تسبیح تشویق کړی دی او مبارک وفرمایل: ( کله چې د قدر شپه راځي نو جبرئیل له ډېرو نورو ملائکو سره ځمکې ته راځي او د هغو بندګانو لپاره د رحمت او مغفرت دعا کوي چې په ناسته او ولاړه د الله ج په عبادت باندې مشغول وي) او همدارنګه مبارک ارشاد وکړ ای خلکو! پر تاسو باندې داسې میاشت راغلې ده چې په هغه کې داسې شپه شتون لري چې د زرو میاشتو څخه افضله ده او هر هغه څوک چې ددغې شپې څخه محروم شو نو نوموړی د خیر له ټولو امورو څخه محروم دی. د قدر په شپه انسان چې هر ډول شرعي دعا د الله ج پر نزد وړاندې کړي منل کیږي. او د حضرت عایشې رضي الله عنها څخه بیان دی چې وایي: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل نو که د قدر شپه راته معلوم شوه نو راته ووایه چې په نوموړې شپه کې کومه دعا وکړم؟ هغه مبارک وفرمایل دغه دعاء ووایه ( اللهم انک عفو کریم تحب العفو فاعف عنی ) ژباړه: یا الله جل جلاله ته ډېر ښښنه کوونکی یې، ښښنه خوښوې ما وبښه.
د قدر شپه، هغه شپه ده چې الله جل جلاله د خپل کلام (قرآنکریم) نزول د لوح محفوظ نه د دنیا آسمان ته او د نوموړي کلام د نزول پیل یې په خپل پیامبر د انساني نړۍ په ناجي باندې پیل کړی دی.

د قدر د شپې فضایل خورا ډېر دي او ټول فضایل یې نشو کولای په دې رساله کې چاپ کړو مګر په خلاصه توګه کولای شم د رسول الله صلی الله علیه وسلم څو لنډ حدیثونه په دې هکله بیان کړم، په حدیث کې راغلي دي: هرچا چې د قدر شپه د ایمان او داخلي اعتقاد په درلودلو سره او په دې هیله چې د آخرت انعام او پاداش پکې شته قیام او لمنځونه یې وکړل، د هغو مخکیني صغیره ګناهونه به وبښل شي.

په بل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د رمضان مبارک په وروستی لسیزه کې دعبادت لپاره داسې کوښښ کولو چې بل دده په شان څوک نه پیدا کیدل.
د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه په یو حدیث کې فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د بني اسرائیلو څخه یې د یو کس نوم واخیستلو چې زر کاله یې توره په غاړه د الله جل جلاله په لاره یې مبارزه کړې وه او رسول الله ص ددې کار څخه حیران شوی وو او د خپل امت لپاره یې د الله جل جلاله څخه د همدې په شان د څه غوښتنه وکوله او وفرمایل: ربه! زما امت دې ترټولو کم عمره او کم عمله ګرځولی دی او پخواني امتونه دې د ډېرو عمرونو درلودونکي وو؛ او الله جل جلاله هغه مبارک ته د قدر شپه ورکړه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وفرمایل چې د قدر شپه د هغو زرو میاشتو څخه چې هغه بني اسرائیلي کس چې توره یې په غاړه اخیستی وه او زما په لاره یې جهاد وکړ ستا د امت لپاره تر قیامت پورې غوره او پورته ده.
په دې اړه چې الله جل جلاله د قدر د شپې فضیلت او برکت د زرو میاشتو په عبادت سره په پرتله د قدر په مبارکه سوره کې بیان کړی دی، د اسلامي نړۍ ځینو علماوو د قدر د شپې زر میاشتې داسې محاسبه او موندلي دي چې دا موده برابره ده د ۸۳ کلونو او ۴ میاشتو سره.

## د روژې حکمت او ګټې

روژه ډېرې جسمي او روحي ګټې لري، بدن ته شفا ورکونکي او ځواک ورکونکي ده، د حیواني رذایلو څخه د انسان پاک کونکی ده، د کس په صالح او ښه ټولنیز کیدلو کې ډېره ګټوره ده، د نفس په تذهیب او پاکولو کې او همدارنګه له نیمګړتیاوو څخه د انسان آزادول د بدن په اړتیاوو باندې عالي اغېزه لري.
روژه داسلام دانسان جوړونې یو حکم دی، د روژې طبي فواید د انسان جوړونې فریضې د کوچنی ګټو څخه ده په هغه اندازه چې ممکن د هغو توضیح او تکرار ته اړتیا نه وي او اکثره خلک د هغو څخه لږ او ډېر خبر دي. موږ په لنډو کې دغو انسان جوړونې ګټو ته اشاره کوو:
معده او د هاضمي سیستم د انسان د بدن کارونکي غړي دي، د ډوډۍ خوړلو درې وختونه کوم  چې په خلکو کې عام دي، تقریباً په ټولو ساعتونو کې یې د هاضمې سیستم په هضم، تحلیل، جذب کولو او دفع کولو باندې بوخت وي، په روژه کې له یوې خوا دغه غړي آرام کوي ترڅو چې د ستړیا او د له منځه تللو څخه مصؤن پاتې شي او نوې انرژي د ځان لپاره واخلي او له بلې خوا د غوړو هغه وژونکي  ذخایر چې د بدن لپاره زیان لري کمیږي.
په اسلامي روایاتو کې حتی د روژې جسمي ګټې هم واضحه شوي دي ترڅو ځینې ضعیف عنصرونه، که څه هم په کامل ایمان سره لږترلږه دروژې صحي ګټې په پام کې نیولو سره دغه مثمره فریضه اداء کړي او ددې له متنوع ګټو څخه د توان په اندازه ګټه پورته کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې هکله وايي: «صوموا تصحوا» روژه ونیسئ ترڅو روغ پاتې شی. او همدارنګه په راغلو روایاتو کې  ډېری اسلامي مشرانو ویلي دي: «د انسان معده دده د ناروغیو کور دی او له ډېرې ډوډۍ څخه ډډه کول د هغو درملنه ده.»
په روژې او امساک سره کولای شو د ناروغیو کچه کمه کړو او درملنه یې کړو. مګر په هغه حالت کې چې ډېرې کچې ته نږدې نه وي د روژه ماتي اود پیشلمي په خوړلو او څښلو کې زیاتی ونشي. د روژې صحي فواید په دې سره نه دي خلاصه شوي، هغوی چې د ډېرو توضیح لیوالتیا لري، کولای شي ددې موضوع

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړوند کتابونو ته مراجعه وکړي. باید پام وکړو چې د ځینومحدودو فکرو خاوندانو په ـخلاف، روژه هیڅ ډول زیان مکلفو سالمو افرادو ته نلري.

## روژه د ګناه د مخنیوي لپاره عامل

روژه، په ځانګړې توګه د رمضان مبارک روژه په اسلام کې په ټولو هغو مکلفو مسلمینو باندې واجب ده چې د نیولو ځواک او توان یې لري، او همدارنګه روژه د روحیې ، تقویه کولو، رامنځته کولو او د پرهیزګارۍ لپاره یو مؤثر عامل دی.؛ قرآنکریم ددغې لویې ګټې څخه په (لعلکم تتقون) جمله سره یادونه کوي او دا عبادت د تقوی مهم عامل ګڼي. تقوی او پرهیزګاري د مسلمان په اسلامي روزنه او شخصیت جوړونه کې ډېر رغنده رول لري. او دغې ارزښتناکې درجې ته رسیدل چې غوره عبادت په دې صیام میاشت کې په داسې حال کې  چې روژه ده، له ګناهونو څخه ډډه کول دي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه خطبه کې د رمضان د میاشتې فضیلتونو مسلمانانو ته بیان کړل او د هغې پوښتنې په ځواب یې؛ چې غوره اعمال په دې میاشت کې کوم دي؟ وویل «الورع عن محارم الله» دګناهونو څخه ډډه کول.

روژّه نیونکی ددې امر په نظر کی نیولو سره چې د روژې د کمال شرط هم دی په خپل ځان کې د تقوی روحیه را ژوندی کوي او دا ګټوره ساتنه د رمضان په مبارک میاشت کې د روژې په حالت کې ډېره آسانه ده، ځکه چې دروژې د لوږې او تږې د محدودیتونو له کبله حیواني غرایز، خواهشات، عیش او عشرت تر ډېره بریده نه ښکاري یعنې خاموش وي که څه هم چې مؤقتي وي خو عقل او ځان خپله غاړه د شهوت له پنجه څخه پرېږدي او د روژه نیونکي لپاره، د تقوی او پرهیزګارۍ د چمتوالي لپاره د تمرین لاره برابروي او په دې میاشت کې  د پرله پسې ساتنې او تمرین له کبله په ده کې د ګناه د مخنیوی توان او ځواک رامنځته کیږي او د مخنیوی کولو خصلت په ده کې ریښه لرونکی کیږي او ددغې یوه میاشتنۍ خپرونې په تیرېدو سره توفیق پیداکوي ترڅو وروسته له روژې څخه هم پرهیزګاره پاتې شي او په دې سره د تقوی لوړ مقام ته چې د قرآن په تعبیر سره، د انسان کرامت په هغې باندې تړلی دی پیدا کیږي چې د تل لپاره به پکې بریالی وي.

## او له روژې څخه وروسته

د رمضان په راتګ سره د ټول کال هغه  دوره چې قرآنکریم یې پوښلی وو پاک او ددغې هېر ملګري پوښتنه مو وکړه، مګر اوس څه؟ ممکن بیا موږ تر  میاشتو میاشتو د رمضان تر راتګ پورې دا مبارک کلام خلاص نکړو. د رمضان په وروستی  شپه کې جمات د لمونځ کونکو څخه پوره ډک وي مګر بله ورځ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممکن د لمونځ کونکو دوه صفه هم پاتې نه وي. په الله باندې پناه! آخر په دې ورځ څه ټکه راولوېدله چې دا ټول لمونځ کوونکي د الله جل جلاله له کوره تیښته وکړه؟ آیا هغه خدای چې تر تېره ورځ پورې مو عبادت ورته کولو، نعوذ بالله نور شتون نه لري؟ آیا کوم امر یې صادر کړو چې سر له سبا د عبادت نه ودرېږی یعني مه یې کوئ؟ آیا هغه پروردګار چې په رمضان کې مو رب وو، نعوذ بالله نور مو رب ندی...؟ که له یاد شوو مواردو څخه نه دي نو داځرنګه مدرسه وله چې وروسته له یوې میاشت تمرین او زیار ایستلو څخه هیڅ کوم تأثیر یا اثر یې په زده کوونکو نه درلود؟ نعوذ بالله، په مدرسه کې هیڅ ستونزه نه وه، داځکه چې معلم او مربي یې الله جل جلاله او درسي مضمون یې رباني کلام وو، بیا نو دا راته جوتیږي چې ستونزه په زده کوونکو کې وله. نو موږ ښه زده کوونکي نه وو دا ځکه چې ددغې یو میاشتنۍ مدرسې څخه مو هیڅ لاسته راوړنه نه درلوده ترڅو چې خپل راتلونکی ژوند پرې سمبال کړو.

## وروسته له رمضان نه څه باید وکړو؟

هغه اعمال چې وروسته له رمضان نه ترسره کول یې اړین دي په لاندې ډول یې ذکر کوو.

د رمضان وروستی شپه له لاسه مه ورکوه! رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

۱- د رمضان په وروستی شپه باندی د امت لپاره مې د رحمت او بخشش پریکړه صادرېږي، ځکه کله چې کارګر خپل ټول کار ترسره کوي د هغه بشپړ اجرت ورکول کیږي.

۲- خپل ځان ور ارزوه: وروسته له رمضان څخه خپل فعالیت ور ارزوه. او وګوره که دې فعالیتونو ډېروالي او ښه والي په لور یې بدلون موندلی وو، نو خوشحاله ووسه مګر که په عبادت کې سست شوی وې، نو په خپل ځان باندې وډارېږه.

۳- پرهیزګاري: ډډه وکړه له دې چې خپله توبه ماته کړې او له هغه وعده چې له الله سره دې کړې وه سرغړونه وکړې. مه یریږده چې د هغه تقوی بنسټ په معصیت او ګناه سره وران کړې چې په سخته عبادت دې ترلاسه کړی وو، ډډه وکړه له دې چې د هېرونکي له ډلې څخه ووسې.

۴- اعتماد په نفس: د رمضان میاشت تا ته دا وښودلو چې ته د تعهد، استقامت، د منکراتو ترک کول او د لمونځونو ترسره کول په جماعت باندې ځواک او توانایي لرې، نو ډاډمن ووسه چې د الله جل جلاله په توفیق سره وروسته له رمضان څخه هم دغه ځواک او توانایي له ځان سره لرې او کولای یې شې.

۵- د شوال میاشت شپږ روژې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل څوک چې د رمضان په میاشت او د شوال د میاشتې شپږ ورځې روژه ونیسي، داسې ده لکه چې ټول عمر یې روژه نیولې وي. (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦- کوښښ وکړو وروسته له رمضان څخه نفلي روژې لکه د ( دوشنبه، پنجشنبه او د ایام البیض (۱۳-۱۴-۱۵ سال هـ ق) روژې ونیسو او د خپل نفس په پاکولو کې قدمونه واخلو.
٧- د فطر زکات ورکړه، د ابن عباس له قوله، رسول الله صلی الله علیه وسلم د روژې د پاکولو په هدف له بدو اعمالو، بدو ویلو څخه او مساکینو ته د ډوډی ورکولو په موخه صدقه فطر واجب ورگرځوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الهي!

الهي څومره دعا مې وکړه، یاالله څومره مې ستا دروازې ته وژړل، چې سږ کال هم فرصت راکړه ترڅو ستا د رمضان په ښکلي دستخوان باندې زړه او ځان موړ کړم او ستا میلمه شم، راځه ته هم زما سره راځه، ممکن راتلونکی کال د لحد دروندوالۍ زموږ ځواک له موږ نه واخلي، راځه لاړ شو او ژر لاړ شو او خالصانه ځان رمضان ته وسپارو، ممکن موږ تر خدایه ورسوي.

خدایه په دغې د برکت څخه په ډکو شپو او ورځو کې …

ټولو ناروغانو ته شفا، ټول بندیان خلاص

ټولو نارینه وو ته غیرت او ښځو ته عفت

ټولو زړونو ته آرامي، ټولې ستونزې آساني

ټول زړونه په ایمان، ټول پوروړي خلاص کړي

ټولو بې کسانو ته پناه، ټولو کورونه نه صفا

ټولې توبې ومنه او ټول عبادات قبول کړه

او زموږ په ګران هیواد افغانستان کې، یوه واقعي سوله له بشپړ اسلامي نظام سره راولې.

آمین یا رب العالمین

یادونه: دا چې یوازې د عالمیانو خالق د اشتباه او نیمګړتیا څخه مصؤن او پاک دی، فلهذا د لوستونکو څخه هیله لرو چې د مطالعه او کتنې  په وخت کې اشتباه او خطاء په خپل خطا پوښو سترګو باندې موږ ترې خبر کړي او د جوړونکي نیوکو او مؤثرو پیشنهادونو څخه دریغ مه کوئ. او په پای کې هیله مند یم چې الله جل جلاله دا رساله په خپل درګاه کې ومني او په دې لاره کې زموږ قدمونه کلک او زموږ حرکت همیشنی وګرځوي او دا رساله د بنده او د جمیع مسلمانانو  د ګناهونو د کفارې لامل وګرځوي

په درنښت

نصرت الله صاحبي

د مصعب بن عمیر رضی الله عنه د درالقرآن د تربیتی ځانګې مسوؤل

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**